# د سيف الرحمان سليم پۀ کلام کښې رندانه (خمريه) مضامين

# The subject of licentious in the poetry of Saifurahman Saleem

Dr.Nasrullah Khan[1]

Dr.Farkhanda Liaqat[2]

Mr.Tufail Ahmad Zaryab Yousafzai[3]

ABSTRACT

*Saifur Rahman Saleem is one of the renowned modern romantic Poet of Pashto. His poetry is multidimensional and has diversity of subjects. Licentious is the main subject of throughout the world poetry. The wine and statements of wine as a symbol is the main focus of the poetry of Saifur Rahman Saleem which describe the different aspect of the society and specially Pashtoon Nation. This paper is to point out the aspect of Licentious in the poetry of Saifur Rahman Saleem in light of the classical poetry of Pashto and prove that he is a romantic modern poet and has licentious colours in his poetry like those in Persian and Urdu poetry.*

Keywords: Renowned, Modern Romantic, Multidimensional, Diversity and Licentious.

Pukhtunkhwa Journal

دا يۇ منلے شوے حقيقت دے چې شاعري د نازکو فنونو نه يۇ لطيف فن دے. د الله پاک لۀ طرفه يوه عطيه ده.د الفاظو جادوګري ده.ادب دے، د فطرت نقالي ده ، د کائناتو عکاسي ده او د مخلوقاتو ترجماني ده. شاعر يۇ فنکار دے، د خپل دور ماحول،اولس او چاپېر چل ترجمان،وکيل او نباض دے.

"يہ خاصيت خدا نے شعر ميں وديعت کي ہے.وہ ہم کو محسوسات کے دائرہ سے نکالکر گزشتہ اور ائندہ حالتوں کو ہماري موجودہ حالت پر غالب کر ديتا ہے ."[i]

پۀ هر ملک او قوم کښې شاعران،اديبان او فنکاران پېدا شوې دي او پېدا کېږي به هم ځکه چې ژوند د حرکت دوېم نوم دے دغه سلسله د ادم نه واخله تر دې دمه لا مخ پۀ وړاندې روانه ده. پۀ دغه انسانانو کښې يۇ نوم د پښتو ژبې او ادب د جديدې شاعرۍ يۇ انقلابي،مقصدي،ترقي پسند، روماني او رندانه شاعر سيف الرحمان سليم هم دے.

سيف الرحمان سليم پۀ کال ۱۹۲۹ء کښې د داودزو تپې پۀ ګُلوزو نومې کلي کښې د جلال الدين

[1] Assistant Professor, Department of Pashto, Islamia College Peshawar.

[2] Senior Research officer, Pashto Academy, University of Peshawar.

[3] Lecturer in Pashto, Department Of Pashto. Islamia College Peshawar.

پهٔ کور کښې دې فاني دنیا ته تشریف راوړے وهٔ. ابتدائي تعلیم ئې د خپل کلي د مدرسې نه حاصل کړے وهٔ ولې د څهٔ نامعلومه وجوهاتو پهٔ وجه ئې نور تعلیم جاري وَ نهٔ ساتلو. البته د علم شوق پرې غالب وهٔ او پهٔ پرائیویټه توګه ئې لسم پاس کړے وهٔ. ملازمتونه ئې هم کړي دي لکه د خزانې پهٔ دفتر کښې کلرک بهرتي شوے وهٔ. چې شپږ کاله پس ئې دغه نوکري پرېښلې وه. بیا څهٔ موده پهٔ رېډیو پاکستان پېښور کښې ئې هم ملازمت کړے وهٔ. ولې د دغه نه هم ووېستلے شو.

سلیم چې پهٔ کوم وخت کښې ژوند کولو پهٔ هغه وخت کښې نهٔ یوازې پهٔ دې سیمه کښې بلکې پهٔ ټوله نړۍ کښې اړے ګړے وهٔ.پښتنه سیمه هم د ناشوني حالاتو سره مخ وه چې هر چا پهٔ کښې د خپل وس مطابق د معاشرې د پاره هلې ځلې کولې.سلیم هم یؤ حساسه شاعر وهٔ هغه هم د خپل قام او خاورې د پاره خپل قلم استعمالولو کهٔ یؤ پلؤ هغه د معاشرې د پاره انقلابي مبارزه کوله او د ترقي پسندو سره کلک ولاړ وهٔ نو بل اړخ ته هغه د رومان شهزاده هم وهٔ. یؤ عاشق هم وهٔ د حسن پرستار هم وهٔ. هغه د هر چا د زړهٔ خیال ساتلے دے او د هر چا د مرضۍ مطابق شاعري ئې کړې ده. کهٔ یؤ پلؤ هغه یؤ سوچه روماني،مقصدي،ترقي پسنده او انقلابي شاعري کوله نو بل اړخ ته ئې رندانه مضامین هم پهٔ ډېر ښکلي انداز کښې بیان کړي دي. دا یؤ حقیقت دے چې پهٔ کومه شاعرۍ کښې د حسن وعشق موضوع بیان شوي وي نو هغهٔ شاعري خلق ډېره خوښوي ولې بل طرفته چې پهٔ دغه عشقیه او روماني شاعرۍ کښې رندانه مضامین هم بیان شوې وي نو د شاعرۍ خوند یؤ پهٔ دوه زیاتوي. هسې خو رندانه شعرونه تقریباً د هر شاعر پهٔ کلام کښې مؤجود وي خو ولې پهٔ مشرقي ژبو کښې د دغه مضمون پهٔ حقله الطاف حسېن حالي لیکي:

"جس طرح عشقیہ مضامین غزل کے نیچر میں داخل ہویں اسي طرح خمریات یعني شراب اور اس کے لوازمات کا ذکر اور نیز فقہا و زہاد اور تمام اہل ظاہر پر طعن و تعریض کرني.اپني میخواري و توبہ شکني و خرابات نشیني پر فخر کرنا اور اہل شرع اور تقویٰ کے اعمال و اقوال میں عیب نکالنے اور اسي قسم کي اور باتیں جو عقل و شرع کے خلاف ہوں. یہ مضامین بھي غزل کے اجزاے غیر منفک قرار پاگئے ہیں. سب سے پہلے غزل میں یہ طریقہ شعراے متصوفین نے جو اہل اللہ اور صاحب باطن سمجھے جاتے ہیں اختیار کیا تھا جیسے سعدي و رومي و حافظ و خسرو وغیرہ. چونکہ ان لوگوں کي غزل نے ایران اور ہندوستان میں زیادہ رواج اور حسن قبول پایا اور خاصکر خواجہ حافظ کي غزل جس میں ان مضامین کي بہتات سب سے بڑھ کر ہے حد سے زیادہ مشہور و مقبول ہوئي.اس لیے متاخرین نے بھي ان کي تقلید سے یہي شیوہ اختیار کر لیا."[ii]

پښتو ادب ته هم غزل د فارسۍ نه راغلے دے چې د غزل ټول لوازمات ئې د ځان سره راوړي او قبول کړي هم دي.

لکه چې د پښتو ژبې او ادب بابا خوشحال خان خټک هم د دغه اثر لاندې راغلے دے وائي:

شیخ دې مونځ روژه کا زهٔ به ډکې پیالۍ اخلم

هر سړے پېدا دے خپل خپل کار لره کنهٔ." [iii]

بل ځاے وائي

مست یم مئے پرست یم رندي کړمه کړمه کړم

واوره محتسبه باده خورمه خورمه خورم." [iv]

دغه رنګ د پښتو ژبې او ادب لهٔ ټولو مقبول او صوفي شاعر عبدالرحمان بابا هم دغه موضوعات ځاے پهٔ ځاے چېړلي دي لکه چې وائي.

چې خبر شوم د ساقي د جام لهٔ راحَ

لکه مړي ملاقي شوم لهٔ ارواحَ

هر ساقي چې جام د عشق لري پهٔ لاس کښې

دا پياله ئې پهٔ مستانو ده مباحَ ." v

بل ځاے وائي.

د ساقي پهٔ لاس کښې جام د ميئ ناب دے

مطرب ايښے پهٔ زانو باندې رباب دے

تهٔ چې ما وَ ته توبه وائې ناصيحه

پهٔ دا وخت کښې چا څخهٔ د توبې تاب دے. "vi

عبدالحميد مومند د پښتو نازک خياله شاعر دے . د فارسي ادب نه ئې درې مثنوياني پښتو ژبه کښې ترجمه کړي دي.د ګاونډی ژبې دغه اثرات د ټولو نه زيات پهٔ حميد بابا شوي دي.څهٔ پهٔ زړهٔ پورې ئې وېنا کوي:

لهٔ شيخئ رانه بهتره شوه رندي

بيا

ناصحان مي دې پهٔ سل رنګه غندي بيا

د ګوندئ زړهٔ ترې نه صبر کړه ناصحه

د رندئ سره حميد شو سوګندي بيا."vii

هم پهٔ دغه تناظر کښې د اردو ژبې او ادب متصوفي شاعر مير تقي مير وائي چې.

ميں جواني ميں مے پرست رہا

گردنِ شستہ ہي ميں دست رہا

درِ مے خانہ ميں ميرے سر پر

ظلِ ممدودِ داربست رہا

ہاتھ کھينچا سو پير ہو کر جب

تب گنہ کرنے کا نہ دست رہا ."[viii]

د اردو ژبې او ادب بل نامتو شاعر مرزا اسدالله خان غالب چې په اردو ادب کښې د نازک خيالۍ بابائے ادم بللے کيږي او د فارسۍ ژبې ديوان هم لرې وائي:

ميں اور بزمِ مے سے يوں تشنہ کام اوں

گر ميں نے کي تھي توبہ ، ساقي کو کيا ہوا تھا ." [ix]

د غالب بل شعر دے.

يہ مسائلِ تصوف! يہ تيرا بيان غالب!

تجھے ہم ولي سمجھتے جو نہ بادہ خوار ہوتا ." [x]

ولې دغه سلسله چې د پښتو جديد دور ته رارسي نو ځان په پښتو شاعرۍ کښې د يؤ جوت علامت او مضمون په حيث ښکاره کوي.د کلاسيکي شاعرانو نه پس دغه مضمون په جديده شاعرۍ کښې ډېر زيات په نظر راځي. د غني خان او اشرف مفتون شاعري هم په دغه تناظر کښې د قدر وړ اضافه ده. ولې په دغه ټولو کښې د سيف الرحمان سليم شاعري په رندانه مضامينو باندې ښۀ سمبال ده چې د هغۀ شاعرۍ ته ئې ځلا بخښلې ده.

"خمر په عربۍ کښې شرابو ته وئيلے شي نو چې په کومو شعرونو کښې د شرابو ذکر شوے وي هغې ته خمريات وائي."[xi]

رندانه يا خمريات هغه شعرونو يا شاعرۍ ته وئيلے کيږي چې په کښې د شرابو او د شرابو د لوازماتو ذکر شوے وي. لکه ساقي،رند،ساغر،مېکده،مېخانه،واعظ، ناصح، شيخ، ملا،زاهد،پيالې،جام، صراحي،شراب،مے، نشه،خمار،مستي وغېره په کښې په رندانه طريقه بيان شوې وي . د سليم په شاعرۍ کښې دغه ټول لوازمات په ډېر ښکلي او فنکارانه انداز کښې لکه د ملغلرو پيئلے شوې دي. لکه چې ځوک نوے نوے مېکدې ته داخل شي او د شرابو سره اشنائي جوړه کړي نو سيلم په خپله شاعرۍ کښې دغه نقشه داسې راکاږي.

کله نا کله ست د جام کوه

په تا مئين يم په ما پام کوه

راغلے يم زۀ مېکدې ته نوے

ساقي لږ ما سره ناکام کوه."[xii]

او چې کله د شرابو عادي شوے دے د شرابو حرارت ئې زغملے دے، رګونو ئې د شرابو د مستۍ خوند اخستے دے نو بيا ساقي جان ته ځومره ښکلې وېنا کوي چې:

ساقي نشه مې کړه حساب مۀ کوه

کۀ په حساب شي نو زۀ کم غواړم."[xiii]

پهٔ جدید دور کښې د سیلم د شعر رنګ واهنګ غالب او حاوي دے . د هغه لهجه مخصوصه ده د خپل کلام قدروقیمت ئې کلاسیک ته رسولے دے. د يو جدا اسلوب خاوند دے چې هغه له ئې پهٔ نوي دور کښې يو منفرد مقام ورکړے دے. د هغهٔ د شاعرئ کمال ته ګورئ څومره پهٔ خوږ انداز کښې يو حقیقت پهٔ ډاګه کوي چې:

چې پهٔ کښې خوند کوي تراخهٔ ګوټونه

ژوند کښې څو ورځې دا موسم راځي

چا چې لېدلے وي د مئيو جنت

هغه بهر دنیا ته کم راځي." xiv

د سیلم شاعرئ نهٔ یوازې د جدید دور نقادان ځان ته مائله کړې دي بلکې د عامو خلقو زړونه او خیالونه ئې هم ځان ته راګرځولي دي. هغهٔ کهٔ هر څو يو ترقي پسند،مقصدي او انقلابي شاعر ؤ ولې د غزل دا رندانه اړخ ئې هم ښهٔ مضبوط ساتلے دے .سلیم يو روشن خیاله شاعر وۀ د خیال د چوکاټونو پابندي ئې نهٔ منله او نهٔ ئې څهٔ بندېزونه منل څومره پهٔ رندانه طریقه نور اولس ته بې وېرې مخاطب کېږي چې:

مېکدو پهٔ لور ئې بوځئ چې سېل وکړي

دا ځوانئ مو د څو ورځو مېلمني دي." xv

او بل شعر کښې د رندانهٔ ژوند عناصر بیانوي چې:

نغمې،ښائست او د شرابو نشې

ژوند کښې پکار دي دغه درې خبرې ."xvi

سیلم د ژوند د حقیقت نه پهٔ ښهٔ توګه خبر وۀ. د کائنات وسیعه مطالعه ئې لرله.

سلیم راز د سلیم پهٔ حقله لیکي:

"د خپلې کلاسیکي شاعرئ د روایت پهٔ تسلسل کښې او د خپل روزمره ژوند د تجربو نه ئې چې د شېخ، زاهد او واعظ پهٔ حقله څهٔ حاصل کړي دي د هغې اظهار ئې هم پهٔ فنکارانه انداز کښې کړے دے

تقدس ئې پهٔ قبا او تربوزک دے

مخ ئې مهٔ ګوره چې څومره مبارک دے"xvii

سلیم د واعظ، مُلا، ناصیح او شېخ شیخي او کردار هم پهٔ غړولو سترګو لېدلے او ځېرلے وۀ. لکه چې د واعظ پهٔ حقله خپل خیالات د اولس سره شریکوي او وائي چې:

واعظ چې غواړي پس لهٔ مرګه شراب

دا انتظار دي څهٔ توبه خو نهٔ ده." xviii

پۀ دې ګړده نړۍ کښې داسې واعظان هم شته چې بل ته وعظونه کوي ولې ځان له ئې دا حال وي چې:

مېکده خو د رندانو خلقو ځاے وي

چې واعظ څنګه تشريف راوړو دننه."xix

او بل شعر کښې ورته وائي:

ما نه ساغر پۀ مېکده کښې مات شو

واعظ نه خوا کښې د محراب مات شو."xx

هم دغه د واعظ اصطلاح له ئې رواج ورکړے دے او د خپل کلام خوند او رنګ ئې پرې سپوا کړے دے. ولې بل طرفته ئې دغه قسم واعظان دنيا ته پۀ ډاګه کړي هم دي او دا د هغه د شاعرۍ کمال دے لکه چې واعظ ته دعاګو دے:

واعظه ښاد شې مونږ د ژبې د دورې نه ساته

مونږ مېخوَرو سره کوه پۀ سرې توب خبرې."xxi

پۀ رندانه شاعرۍ کښې د خزان او بهار ذکر هم کوي او دغه دوۀ پۀ زړۀ پورې موسمونه د خپل شعر پۀ لمن کښې رانغاړي لکه چې وائي:

د مئيو ګوټ سره موسم بدلېږي

خوند پۀ خزان کښې د بهار اخلم

تۀ د واعظ سره خبرې کوه

زۀ يو څو ګوټه پۀ تلوار اخلم ."xxii

سليم ته د واعظانو وعظونو او نصيحتونو کار نۀ دے کړے حالانکې واعظانو خپل ځانونه ښۀ ستړي کړي دي او څۀ به ئې کار کړے وے ځکه چې واعظ پۀ خپله پۀ دغه مېکده کښې کله کله ښکاره کېږي ولې پۀ سپينه جامه کښې نورو ته نصيحتونه هم کوي سليم يو رښتينے شاعر دے هغه د خپل وخت د واعظانو دغه حالات هم پۀ ډاګه کړې دي لکه چې وائي:

واعظ خپلې ستړې وکړې خپل ئې نۀ کړم

ساقي جان سره پۀ مينه ځم روان يم

دې توبې نه څۀ مطلب شو سليم جانه

بيا چې ټول عمر د څښلو پۀ ارمان يم ."xxiii

د واعظ سره ياري دوستي هم پالي د هغه پيکه خبرو ته غوَږ هم نيسي ولې بيا هم د واعظ سره يو شرط داسې لګوي چې:

ښهٔ ده شراب نهٔ څښمم خو يؤ شرط پهٔ کښي واعظه ږدُو

هغه وخت به څښمه چې زهٔ کله تږے کېږمه"[xxiv]

پهٔ بل شعر کښي واعظ ته خبردارے ورکوي د ځان او د ملګرو مېنوشو رايې ورته پهٔ ډاګه کوي چې:

دا خو مېخانه ده د واعظ دې سره څهٔ غرض

دلته به هغهٔ کېږي چې څهٔ دا مېخوارهٔ وائي"[xxv]

سليم پهٔ هغه خلقو د طنز غشي پهٔ رندانه طريقه ورروي کوم چې توبه بيا بيا ماتوي د داسي خلقو کمے هم زمونږ پهٔ معاشره کښي نشته. سليم دغه نقشه داسي پېش کوي:

نن خومي بيا د زړهٔ رضا وکړه

ما پهٔ توبې پورې خندا وکړه

بويه سبا پورې چې څهٔ پېښيږي

راځه يؤ ځوګوټونه بيا وکړه ."[xxvi]

او بل ځاے کښي دغه حقيقت داسي بيانوي:

توبه د مېئو نه ويستلے نهٔ شم

هسې مي خُلې لهٔ پهٔ خطا راغله "[xxvii]

. سليم د اعلٰى پايې نظمونه هم ليکلي دي ولې پهٔ بنيادي توګه هغهٔ يؤ کامياب غزل ګو شاعر دے.روښان يوسفزے د سليم د غزل پهٔ حقله ليکي چې:

"د هغوي غزل خپله غېره کښي ډېر مختلف زړهٔ راښکونکي رنګونه لري.دغه وجه ده چې پهٔ ورومبي ځل لوستو يا اورېدو سره د لوستونکي او اورېدونکي پام ځانته راګرزوي. د هغوي د غزل دغه ټول رنګونه دومره شوخ او پاخهٔ دي چې لهٔ هغو نه پهٔ مجموعي توګه چې کوم تاثير يا جادو راولاړېږي هم دغه مخصوص تاثير د سليم صېب د غزل ځانګړے صفت دے او لهٔ هغې نه د هغوي د غزل مخصوص اهنګ او د ځانګړي لهجي شناخت ډېر پهٔ اسانه کېدلے شي او پهٔ دي بنياد هغوي ته مونږ صرف يؤ صاحب فکر بلکې صاحب طرز شاعر هم وئيلے شُو."[xxviii]

سليم کهٔ يؤ اړخ ته رندانه شاعري کړي ده ولې بل اړخ ته ئي د انسانيت خيال هم ساتلے دے. د هغه شاعري يوازي د ځان د پاره نهٔ ده بلکې د انسانيت د پاره هم ده لکه چې توبه ماتوونکو ته يؤ ډاډ هم ورکوي او ساقي جان ته مخاطب کېږي:

د مېکدې لارې لا مهٔ بندوه

بندې لا نهٔ دي د توبې لارې."[xxix]

ولې بل طرفته د مېکدې قانون هم بيانوي چې:

مېکده کښي لا څهٔ بل رنګه قانون دے

چي ګناه هلته څوک نۀ کړي نو ګناه ده ."xxx

سلیم د خپل عهد د انساني مسائلو او اجتماعي نفسیاتو نه په ښۀ توګه خبر ؤ. هغه د اولس غمونه او دردونه په تخلیقي طور د خپل زړۀ او ضمیر په غړ کښې بدل کړي دي

ځکه خو حنیف خلیل د سلیم په حقله لیکي چې:

" شاعري ئې د انساني درد، رشتو او تقدس ترجمانه ده .... سلیم صیب ډېرې لږې خبرې کوي او ډېره کمه شاعري ئې کړې ده خو په معیار پوره ده. د ترقي پسند فکر نمائندګي ئې ډېره په فني انداز کړې ده." xxxi

د هغه مزاج د خپل عصر د فکري صداقت ترجمان او عکاس دے.په دنیا کښې قسما قسم غمونه راځي چې هر انسان ئې ناقلاره کړے دے . هر انسان د دې غمونو د لرې کولو د پاره لارې ګودرې او داروګان لټوي. سلیم دغه حالات داسې بیانوي چې:

هم خوارۀ دي هم تراخۀ دي

دې شرابو کښې چې څۀ دي

شائد ښۀ شي مېکده کښې

ځم هډوکي مې درانۀ دي ." xxxii

بل ځائې کښې وائي:

زۀ ئې د قصده چرې نۀ ماتووم

دا پیماني را نه قسم هېروي

بې شکه سرۀ شراب ئې نۀ دے علاج

خو څو لمحو له دا څیز غم هېروي .xxxiii

او بیا ساقي جان ته مخاطب کېږي چې:

راشه ساقي کوزه را وَ ځنځوه

ماته خالي په مخکښې جام پروت دے."xxxiv

غرض دا چې:

۱. په پښتو شاعرئ کښې رندانه مضامین او لوازمات تقریباً هر شاعر په خپله شاعرۍ کښې بیان کړي دي چې خوشحال بابا،رحمان بابا او حمید بابا غوندې شاعران هم د دغه مضمون د اثر نه نۀ دي خلاص شوي.

۲.د مشرقي ژبو په شاعرئ کښې دغه مضمون د فارسي غزل لۀ لارې پښتو ادب ته داخل شو چې د پښتو ادب کلاسیکي او جدیدو شاعرانو د یۀ مستقیل مضمون او علامت په توګه قبول کړو.

۳. دغه سلسله چې سيف الرحمان سليم ته راورسېده نو هغه پهٔ کښې نوې نوې تجربې وکړې.سليم دغه رندانه يا خمريه موضوع پهٔ يؤ داسې نوې رنګ کښې پېش کړه چې د هر چا پام ئې ځان ته راوګرځولو. د سليم رندانه يا خمريه شاعري خپله ثاني نهٔ لري او دا ځکه چې:

دے پهٔ شرابو کښې مې جوش ورکړے

ځکه نشه زما کلام پروت دے."[xxxv]

Pukhtunkhwa Journal

# کتابیات و حواله جات

[i] مقدمہ شعروشاعري،الطاف حسين حالي،زاہد بشير پرنٹرلاہور،چاپ اول ۲۰۰۱ءمخ ۲۳

[ii] مقدمه شعروشاعري.مخ.۱۰۷

[iii] پروفسر ډاکتر يار محمد مغموم،دَ خوشحال بابا کُليات،يونيورسټي بک ايجنسي،خيبر بازار،پېښور،کال۲۰۱۶ ء مخ...۷۰۶

[iv] مخ..۲۵۷

[v] سيد رسول رسا، دَ عبدالرحمان بابا ديوان،يونيورسټي بک ايجنسي،خيبر بازار، پېښور س ن،م ، ..مخ ۲۸

[vi] هم دغه اثر،مخ ۹۲

[vii] دَ عبدالحميد مومند کليات، محمد اصف صميم،دانش خپروندويه ټولنه، پېښور،چاپ دويم ۲۰۰۷ء ، .مخ۸

[viii] کلياتِ مير ديوان دوم،جلد دوم،کلب علي خان فائق،مجلس ترقي ادب ، لاہور،طبع دوم،جنوري۱۹۹۱ء ،مخ۸۷

[ix] نوائے سروش،مولانا غلام رسول مہر،غلام علي پرنٹرز،فيروز پور روڈ،لاہور س ن، مخ۱۲۱

[x] هم دغه اثر،مخ۸۳

[xi] مشتاق مجروح،زرکانۍ،اُمي سوشيو ايجوکشنل سروسز،چاپ پنځم، کال ۲۰۱۸ ء مخ ۴۲۵

[xii] دَ وړو وړو خدايانو دي بنده کړم، سېف الرحمان سليم،يونيورسټۍ پبلشرز افغان مارکټ،قيصه خواني بازار، پېښور،چاپ اول،کال مارچ۲۰۰۸ء مخ.۲۵

[xiii] هم دغه اثر،مخ.۱۹۸

[xiv] هم دغه اثر،مخ۱۱۳

[xv] هم دغه اثر،مخ۱۲۱

[xvi] هم دغه اثر،مخ ۳۲

[xvii] پښتونواله،پښتو نړيواله مرکه،دويم کال، لومړۍ او دويمه ګڼه، جنوري ـــ دسمبر۲۰۱۷ م، مخ.۵۸

[xviii] دَ وړو وړو خدايانو دي بنده کړم،مخ ۱۲۷

[xix] هم دغه اثر،مخ ۵۸

[xx] هم دغه اثر،مخ۳۰

[xxi] هم دغه اثر،مخ۱۵۳

[xxii] هم دغه اثر،مخ۱۶۴

[xxiii] هم دغه اثر،مخ۱۸۵

[xxiv] هم دغه اثر،مخ.۵۹

[xxv] هم دغه اثر،مخ۷۳

[xxvi] هم دغه اثر،مخ۱۵۹

[xxvii] هم دغه اثر،مخ.۲۶

[xxviii] هم دغه اثر،مخ ۲۱

[xxix] هم دغه اثر،مخ.۱۳۵

[xxx] هم دغه اثر،مخ.۳۵

[xxxi] حنیف خلیل، مخ پهٔ مخ،دانش کتاب خانه ډهکي نعلبندي پېښور،کال ستمبر ۱۹۹۹ء مخ..۱۶۹

[xxxii] دَ وړو وړو خدایانو دي بنده کړم،مخ.۲۸

[xxxiii] هم دغه اثر،مخ.۱۶۷

[xxxiv] هم دغه اثر،مخ..۱۲۹

[xxxv] هم دغه اثر،مخ.۱۲۹

Pukhtunkhwa Journal